مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۱۹/۰۹/۱۴

په افغانستان کې د وروستۍ سولې منځتګی،

د حاجیګک د وسپنې او هېلمندي لیتیمو د کانونو انحصار دی

خبره سپینه مامدینه ښه ده،

افغانستان د نړۍ تر ټولو بډایې زېرمې لري، چې د نړۍ او سیمې ستر صنعتي ځواکونه ورته غله دي. د انحصاري ورخپلولو لپاره یې سیالي کوي، د سیالۍ لپاره ډلې جوړوي او دا ډلې د اسلام، مذهب، اشغال، لیبرالیزم ، قومي لوړتیا، تاریخي کرکو او عقدو، د خلافت بیا راژوندي کولو، سوچه اسلامي نظام جوړولو... او ساده خلکو ته د داسې نورو جذابو سرلیکنو تر جاذبې لاندې په خپلو منځونو کې سره جنګوي.

توره افریقا له خپلو الماسو، سرو زرو، اینرژۍ او لوړبیه ژویو سره، د تجربې په توګه زموږ تر مخ پرته ده. د افریقا خلک د خپلو پټو پانګو لپاره پېړۍ - پېړۍ وجنګول شول، لوټ شول، ولړو او ناروغیو خاورې کړل، د ژوو ګواښمنې ساري ناروغۍ او مایکروبونه ورته تزریق شول، له بیزو یې ورته HIV یا ایډس ورولېږداوه او چې دغه لویه وچه یې له هر څه تشه کړه اوس یې ورو - ورو پرېږدي.

ګونګوسې دي، چې د وروستۍ سولې منځتګی هم د حاجیګک د وسپنې او هېلمندي لیتیمو د کانونو پر انحصار را څرخېده؟! کیسه بالاخره همداسې ځایونو ته رسیږي، تر دې چې خلک هوښیار شي.

خلک څنګه هوښیار شي؟

یو نسل دې سپینه مامدینه ورته ووایي، چې جګړه ستاسو په دین، ایمان، خپلواکۍ ، سوچه اسلامي یا کفري و لیبرال نظام نه ده. کیسه پر سجدې و لمانځه نه، ستا د سجدې لګولو تر زمکې لاندې پر شتمنیو ده. د غلو د جنګ او ملانصرالدین د بړستنې کیسه خو مو په یاد ده!

علاج، حللاره، هوښیاري او شعور یوازې او یوازې دا ده چې افغان افغان ونه وژني، تر دې ورهاخوا د ژغورنې ضمانت له ما وغواړئ!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ